مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۸/۲۳

# د هوا ککړتیا، دوری که لوګي؟

د کابل د اوړي فضا په یاد راولئ. د آسمان نیلي رنګ په کي ورک، د لمر رڼا داسي تته لکه د لاتین رڼا چي د خیرني بنیښي له شا راووځي. چي مازدیګر کور ته لاړ شي او مخ لاس پرېمینځي، له پوزې دې لوګي تویېږي، سهار دې پاک کمیس اغوستی وي مازدیګر یې په غاړه کي د خیرې توره لیکه جوړه وي.

اوس چي څو واري واوره واورېده او بیا آسمان شین شو، وګورئ. نیلي آسمان تر هغه ځایه روڼ چي سترګي دې کار کوي، لمر داسي ځلیږي لکه نوی چي زیږېدلی وي. د هوا په تنفس خوند اخلي، نه دې کالي خیرنیږي او نه دې له پوزې څخه د بخارۍ موری جوړیږي.

په هوا کي دا دومره توپیر ولې؟

د هوا د ککړتیا یوه لویه وجه د موټرو ګنه ګونه ده. د موټرو لوګی زهرجن ګازانو هوا ته خوشي کوي چي سړی ناروغوي. خو داسي نه ده چي په اوړي کي موټرونه ډېر وو او په ژمي کي لږ، په ژمي کي هم کابل هماغه او موټرونه یې هماغه وو نو له دې جوتیږي چي د هوا د ککړتیا بله لویه وجه دوړی دي.

په اوړي کي سړکونه وچ وي او چي موټرونه تېرېږي دوړې بادوي. موټرونه چي له خامه کوڅو او سړکونو څخه راوځي په ټیرونو پورې یې خاورې نښتي وي، بیا پاخه سړکونه هم په خاورو لړل کیږي. له بلې خوا کابل لکه کاسه داسي دی، څلورو خواوو ته یې غرونه دي او په منځ کي هواره ځمکه. غرونه په څو ځایونو کي پرې شوي دي، تنګي پکي جوړ دي. دغه جغرافیایي جوړښت د بادونو د الوتلو سبب کیږي او باد هم چي له تنګو تنګیو تېرېږي، د ځمکي له مخ سره نژدې الوځي. همدا ده چي پر ځمکه پراته ګردونه او ځځلي لکه بوربوکی هوا ته پورته کوي او د اسمان رنګ پټوي.

دا چي په ژمي کي هوا پاکه وي او د اسمان او لمر اصلي رنګونه لیدلای شو، یوه وجه یې دا هم ده چي په ژمي کي بادونه لږ وي. له بلې خوا وربنت پخپله هوا پرېمینځي خو په دې وخت کي د هوا د پاکوالي یو بل علت هم وي، هغه دا چي سړکونه لانده وي او د موټرو په تېرېدو سره دوړې نه بادیږي.

څه وکړو چي ښارونه مو په اوړي کي هم لکه په ژمي کي پاکه هوا ولري؟

ځیني کارونه دي چي په حکومت پورې اړه لري. مثلاً د سړکونو پخول، د ځځلو راټولول او د سړکونو جارو کول. که په اوړي کي هره ورځ د ښار سړکونه جارو شي او اوبه پرې وشیندل شي نو دوړې به نه پورته کیږي. ښاروالی په اوسني وضعیت کي دغه امکانات نه لري، دا کارونه پیسي غواړي او د ښاروالیو بودجي محدودي دي. زما په ګمان حل یې دا دی چي ښاروالی دي له موټرو د ګرځېدو ټکس واخلي. هره ورځ دري څلور لکه موټرونه په کابل ښار کي ګرځي، که ښاروالي له هر موټره په ورځ کي لس افغانی واخلي نو دېرش څلوېښت لکه افغانی کیږي. په دې پیسو باندې ټول سړکونه پاکولای شو او پر ټولو سړکونو اوبه شیندلای شو. لس افغانی هر موټروالا ورکولای شي او زه فکر کوم که ښاروالۍ دغه پیسي سمي ولګوي او ښار له دوړو پاک وساتي نو هر څوک به خپله خوښه پیسي ورکوي. د دې کار ترسره کول هم اسانه کار دی. مثلاً ښاروالي کولای شي موټرو ته په ښار کي د ګرځېدو لپاره میاشتني کارتونه ورکړي او د میاشتي پیسي په یوه وار ورنه واخلي. د هرې میاشتي لپاره دې په بېل رنګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

کارت جوړ کړي. هر موټر والا به خپل کارت د موټر له ښيښې سره ږدي او بې غمه به ګرځي. څوک چې کارت نه لري هغه دې ښار ته نه پرې ږدي. کېداى شي د دغو پيسو يوه برخه د سړکونه په حفظ او مراقبت هم ولګېږي.
د وګړو کار بيا دا دی چې د بادونو چاره وکړي. که ونې ډېرې وي، يو خو بادونه ورسره کمېږي او بل دا چې که باد وي او دوړې پورته شي نو د ونو پاڼې يې راګرځوي او هوا پاکوي. پسرلی رانژدې شوی دی، د نيالګيو د لک کولو وخت دی. نو که غواړئ چې د ککړې هوا له غمه يو څه خلاص شئ او پاکه هوا تنفس کړئ، راځئ چې نيالګي لک کړو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ